قرآنی بیان

# فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ او
# د معاف کولو عادت

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ اسلامي)
د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

په 12 جون، کال 2026ء (بمطابق: 26 ذُو الحِجّةُ الحَرام، کال 1447ھ)
د جُمعَةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

په 12 جون، کال 2026ء (بمطابق: 26 ذُو الحِجَّةُ الحَرام، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

په نوم

# فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ او د معاف کولو عادت

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْہُ سره ناشنا محبت
- د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتونے خوب
- آیت مبارک یې چې واوریدو نو منع شو (واقعه)
- د معاف کولو سره عزت زیاتیږي

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا رَسُوۡلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

یوه ورځ د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل کور نه بهر تشریف راوړلو او یواځې یو طرفته روان شو، د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې دا ولیدل نو ویریدو (چې هسې نۀ څوک دښمن ورته نقصان وه رسوي)، هغوئي پاڅیدل او پۀ نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې شاته روان شول، حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ولیدل چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو ځائے ته ورسیدو هلته ودریدلو او پۀ دربارِ الٰهي کښې سر پۀ سجده شو- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې دا ولیدل نو د ادب وروستو شو او ودریدو، کله چې سرورِ عالم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سجدې نه سر راپورته کړو نو وه یې فرمائیل: اے عُمره! زۀ چې دې پۀ سجده ولیدم نو تۀ یو خوا ته ودریدې، دا تا ډیر ښه اوکړل- بیا یې وفرمائیل:

اِنَّ جِبۡرِیۡلَ اَتَانِیۡ فَقَالَ مَنۡ صَلّٰی عَلَیۡکَ مِنۡ اُمَّتِکَ وَاحِدَۃً
صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ عَشۡرًا وَّرَفَعَہٗ بِھَا عَشۡرَ دَرَجَاتٍ

بے شکه اوس جبریلِ امین عَلَیۡہِ السَّلَام زما خوا ته راغلے وو او عرض یې اوکړو: یا رسولَ

الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو کوم اُمتي چې په تاسو باندې يو ځل درود شريف لولي، الله پاک به په هغهٔ باندې 10 رحمتونه نازلوي او 10درجې به ورله هم اوچتوي-[(1)]

| | |
|---|---|
| اسے لَب پہ اپنے سجاؤ میاں! | وسیلہ ہے بخشش کا سارا دُرود |
| نِکالے غموں کے تلاطُم سے یہ | کہ ہے راحتوں کا کنارہ دُرُوْد |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْآنِ الْکَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

قُلْ لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا یَغْفِرُوْا لِلَّذِیْنَ لَا یَرْجُوْنَ اَیَّامَ اللّٰهِ لِیَجْزِیَ قَوْمًۢا بِمَا كَانُوْا یَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾

(پارہ: 25، سورۂ الجاثیہ: 14)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صلّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: تهٔ اِيمان والؤ ته وفرمايه: چې هغه خلقو ته معافي اوکړي کوم چې د الله د ورځو اُميد نهٔ لري د پاره د دې چې الله يو قوم ته د هغوئي د کړو [اَعمالو] بدله ورکړي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! حضرت عُمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عظيم صحابی

[1]… معجم اوسط، جلد:5، حديث:6602 ملتقطاً-

رسول دے ◈ پۀ دنیا کښې د هغوئي نوم مبارک **عمر** دے ◈ پۀ اسمانونو کښې هغوئي د **فاروق** پۀ نوم پيژندلے شي ◈ پۀ اسماني کتاب تورات شريف کښې د هغوئي نوم **مَنْطِقُ الْحَقْ** (يعني حق خبره کوونکے) دے ◈ پۀ انجيل شريف کښې د هغوئي نوم **كَافِي** دے ◈ او پۀ جَنَّت کښې به د هغوئي نوم مبارک **سِراج** (يعني ډيوه) وي۔ [1]

◈ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ مکه مکرمه کښې دنيا ته تشريف راوړلو ◈ د يو روايت مطابق هغوئي د 39 نارينۀ نه پس مسلمان شو، [2] ځکه هغوئي ته **مُتَمِّمُ الْاَرْبَعِين** (يعني د 40 شميره پوره کوونکے) وئيلے شي۔ ◈ سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د اسلام راوړلو د پاره دعا اوکړله، ځکه هغوئي ته **مُرادِ رسول** هم وئيلے شي۔ [3] د هغوئي عدل او اِنصاف بے مثاله وو، ځکه هغوئي ته **اَعْدَلُ الْاَصْحَاب** (يعني پۀ صحابۇ کښې د ټولو نه زيات عدل کوونکے) ووئيلے شو۔ [4] ◈ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ 63 کاله پۀ دُنيا کښې تشريف فرما وو ◈ تقريباً 10 کاله 6 مياشتې او د يو څو ورځو پورې يـې پۀ ښه انداز کښې د خِلافت فريضې ترسره کړې [5] ◈ د هغوئي د خِلافت دور د مسلمانانو د عروج ښکلے دور وو ◈ د هغوئي د حکومت انداز ◈ د هغوئي عدل او اِنصاف ◈ د هغوئي مبارک اخلاق او کردار ◈ د اللّٰه پاک نه ويره ◈ تقویٰ او پرهيزګاري

---

[1]… الرياض النضرة، الباب الثانی فی مناقب عمر بن خطاب، صفحه: 235۔

[2]… معرفة الصحابة، باب الارقم بن ابی الارقم، جلد: 1، صفحه: 293 خلاصةً۔

[3]… فيضانِ فاروقِ اعظم، جلد: 1، صفحه: 54۔

[4]… فيضانِ فاروقِ اعظم، جلد: 1، صفحه: 51۔

[5]… تاريخِ اوسط، صفحه: 50، رقم: 373۔

◈ عاجزي او اِنکساري ◈ زُهد ◈ رحم دلي وغيره د قيامته پورې د راتلونکو مسلمانانو د پاره د ژوند تيرولو بهترينه نمونه ده۔

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره ناشنا محبت

صحابیِ رسول، حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ◈ کله چې هم د نيکانو خلقو ذِکر کيږي نو د اَميرُ المُؤمِنِين، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ ذِکر کولو کښې تادي کوئ! ◈ بے شکه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اِسلام قبلول مدد وو ◈ بے شکه د حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خليفه جوړيدل د فتوحاتو (يعني د کاميابو) ذريعه وه ◈ پهٔ الله پاک مې دې قَسم وي! کله چې حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شهيد شو، د دُنيا هر څيز د دې پورې چې ونې هم پهٔ دې خفه وې ◈ پهٔ الله پاک مې دې قَسم وي! زهٔ گنړم چې د حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د دواړو سترګو ترمينځه يوه فرښته وه کومې چې به هغوئي له طاقت ورکولو او هدايت به يـې ورتهکولو ◈ پهٔ الله پاک مې دې قَسم وي! که ما ته معلومه شي چې که يو سپے د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره محبت کوي نو ضرور به زهٔ د هغه سپي سره هم محبت کووم۔ (1)

| | |
|---|---|
| بہارِ باغِ ایماں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں | چراغِ بزمِ عِرفاں حضرت فاروقِ اعظم ہیں |
| رسول اللہ نے فاروق کو اللہ سے مانگا | عطاءِ رَبِّ سُبحاں حضرت فاروقِ اعظم ہیں |
| نہ کیوں وہ ذات چمکے، جس نے دینِ پاک چمکایا | جہاں کے مہرِ تاباں حضرت فاروقِ اعظم ہیں (2) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1… مُصَنَّف اِبْنِ اَبِی شَیْبة، کتاب الفضائل، ماذکر فی فضائل عمر بن الخطاب، جلد:7، صفحه:480، حديث:22۔

2… ديوانِ سالک، صفحه:73 و 74 ملتقطًا۔

## د آیت مبارک مختصر وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د قرآنِ کریم تقریباً 20 آیتونه داسې دي کوم چې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په شان کښې نازل شوي، په هغې کښې د یو آیت مبارک مونږ په شروع کښې د اوریدو سعادت حاصل کړو، په 25 سیپاره، سوره جاثیه، آیت: 14 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| قُلْ (پاره: 25، سورۂ جاثیہ: 14) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تهٔ وفرمایه: |

چا ته وئیل دي؟

| | |
|---|---|
| لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا (پاره: 25، سورۂ جاثیہ: 14) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هغه خلقو ته کومو چې اِیمان راوړے۔ |

دلته د اِیمان والؤ نه مُراد د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے۔ [1] ګویا اِرشاد کیږي: اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! خپل خوږ صحابي، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته وفرمایئ!

څهٔ فرمائیل دي؟

| | |
|---|---|
| یَغْفِرُوْا لِلَّذِیْنَ لَا یَرْجُوْنَ اَیَّامَ اللّٰهِ (پاره: 25، سورۂ الجاثیہ: 14) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چې هغه خلقو ته معافي اوکړي کوم چې د الله د ورځو اُمید نهٔ لري۔ |

---

[1] ... تفسیرِ بغوی، پارہ: 25، سورۂ جاثیہ، زیر آیت: 14، جلد: 4، صفحہ: 124۔

پهٔ دې ځائے کښې د لفظ اَيَّامُ اللّٰهِ (يعنې د الله د ورځو) معنیٰ ده: د الله پاک د مدد ميلاؤيدو يا د الله پاک د عذاب د نازليدو ورځې- مطلب دا دے چې هٔغه غير مسلمه او منافقان خلق کوم چې د الله پاک د ګرفت نه نهٔ ويريږي، پهٔ غرور او تڪبر کښې اخته دي، د الله پاک پټ تدبير يـې هير کړے دے، [1] خپل خوږ فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته وفرمايئ! چې داسې نادانه معاف کړي-

| | |
|---|---|
| لِيَجْزِيَ قَوْمًۢا بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ (پاره:25، سورۂ الجاثيه:14) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: چې الله يو قوم ته د هغوئي د کړو [اَعمالو] بدله ورکړي- |

د آيت مبارک د دې حصې 2 معنې دي: (1): يوه معنیٰ خو دا ده چې فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته وفرمايئ! چې هغوئي هٔغه غير مسلمه معاف کړي، الله پاک به پخپله دې بے دِينو له سزا ورکړي (2): دويمه معنیٰ دا ده چې اے خوږه محبوبه [صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم]! فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته وفرمايئ چې دغه بے دِينه معاف کړي، الله پاک به هغوئي (يعنې فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) ته بهترينه بدله ورعطا کړي- [2]

| | |
|---|---|
| فارِق حق وباطل امامُ الہُدیٰ | تیغِ مَسْلُولِ شدّت پہ لاکھوں سلام [3] |

وضاحت: حق د باطِل نه جدا کوونڪے او هدايت ورکوونڪے اِمامِ بَرحق حضرت عمر

---

[1]… تفسير بيضاوى مع حاشيه شيخ زاده، پاره:25، سورۂ جاثيه، زيرِ آيت:14، جلد:7، صفحه:528 خلاصةً-

[2]… روح المعانى، پاره:25، سورۂ جاثيه، زير آيت:14، جلد:13، صفحه:202 خلاصةً-

[3]… حدائقِ بخشش، صفحه:312-

فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغې تورې په شان دے کوم چې د اِسلام په ملاتړ کښې په سختۍ سره اوچتولے شي، په حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دې په لکونو سلامونه وي۔

## د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شانونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** په دې آیت مبارک کښې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دوه شانونه بیان شول او هغوئي ته یو حُکم هم اوکړے شو۔

## (1): د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اِیمان ګواهي

په وړومبي نمبر خو دا آیت مبارک د دې خبرې ګواه دے چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صاحب د اِیمان دے او داسې کمالي مؤمِن دے چې د هغوئي رَبّ هم، د هغوئي د اِیمان ذِکر فرمائي۔

**د بُخاري شریف حدیثِ پاک دے:** صحابیِ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: یوه ورځ د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ له د سحر د نـمونځ جَمعه راکړه، د سلام ګرځولو نه پس یـې زمونږ طرف ته مخ مبارک راواړولو او وه یـې فرمائیل: یو ګس خپله غوا بوتلله، بیا هغه په هغې باندې کیناستو او غوا یـې وهله، په دې باندې غوا هُغه ګس ته ووئیل: اِنَّا لَمْ نَخْلُقْ لِھٰذَا یعنې مونږ د دې کار (یعنې د سورلۍ) د پاره نۀ یو جوړې کړے شوې اِنَّمَا خُلِقْنَا لِلْحَرْثِ مونږ خو الله پاک د زمیدارۍ د پاره پیدا کړې یو۔

(اوس غوا، بے زبانه ځناور چې په عربۍ ژبه کښې خبرې اوکړې نو د حیرانتیا خبره خو ده، نو) صحابهٔ کرامو علیهمُ الرِّضوَان په حیرانتیا سره ووئیل: سُبْحٰنَ الله! آیا غوا هم خبرې کوي؟

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان د حيرانتيا پهٔ جواب کښې وفرمائيل: فَاِنِّیْ اُوْمِنُ بِهٰذَا، اَنَا وَ اَبُوْبَكْرٍ وَ عُمَر (يعني غوا خبرې نهٔ کوي خو چې الله پاک وغواړي نو غوا ته هم د خبرو طاقت عطا کولے شي او) پهٔ دې خبره باندې زهٔ هم اِيمان لرم ، اَبُو بَکـر هم اِيمان لري او عُمرِ فاروق هم د دې تصديق کوي-

بيا خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يوه بله واقعه بيان کړه، وه يې فرمائيل: يو شپونکي خپلې چيلۍ ساتلې، ناڅاپه يو ليوهٔ (*Wolf*) پهٔ چيلو باندې حمله اوکړه او يوه چيلۍ يې ونيوله ، شپونکي پهٔ هٰغه ليوهٔ پسې منډې کړې او اخر يې ترې چيلۍ راخلاصه کړه، کله چې هغه د ليوهٔ نه چيلۍ راخلاصه کړه نو ليوهٔ د شپونکي طرف ته متوجه شو او وه يې وئيل: اے شپونکيه! لږ ووايه! کله چې د ماتوونکو [ځناورو] ورځ راشي پهٔ هٰغه ورځ به د دې چيلو حفاظت څوک کوي---؟ پهٔ دې باندې هم صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان پهٔ حيرانتيا سره ووئيل: سُبْحٰنَ الله! آيا ليوهٔ هم خبرې کوي؟ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا هم هٰغه جواب ورکړو، وه يې فرمائيل: فَاِنِّیْ اُوْمِنُ بِهٰذَا، اَنَا وَ اَبُوْبَكْرٍ وَ عُمَر (يعني ليوهٔ خبرې نهٔ کوي خو چې الله پاک وغواړي نو ليوهٔ ته هم د خبرو طاقت عطا کولے شي او) پهٔ دې خبره باندې زهٔ هم اِيمان لرم ، اَبُو بَکـر هم اِيمان لري او عُمرِ فاروق هم د دې تصديق کوي - (1)

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دا دے د صِدّيق د فاروق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهما د اِيمان

---

[1]… بخاری، کتاب احادیث الانبیاء، صفحه:891، حدیث:3471۔

شان---!! صحابۀ کرامو عَلیہِمُ الرِّضْوَان پوښتنه کړې وه، د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ فرمان مبارک باندې يــې ځان پوهه کول غوښتل، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې جواب څۀ ورکړو؟ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صِدّيق او فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما اِيمان د ګواه پۀ توګه بيان کړو چې زۀ د خُدائے رسول يم او پۀ دې باندې اِيمان لرم، ابو بکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ صِدّيق دے او پۀ دې باندې اِيمان لري، عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فاروق دے او پۀ دې باندې اِيمان لري نو يقيناً خبره هم داسې ده، لکه څنګه چې ما کړې ده- **علامه اِبنِ حجر** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ **فرمائي:** (خوږ آقا، د مدينے والا مصطفےٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابۀ کرامو عَلیہِمُ الرِّضْوَان د حيرانتيا پۀ جواب کښې د صِدّيقِ اکبر او فاروق اعظ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما د اِيمان پۀ توګه شهادت ذِکر کړو، دا پۀ دې وجه چې) د صِدّيق او د فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما اِيمان ډير کامِل او يقين ډير پوخ دے- [1]

## د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتونے خوب

**د بُخاري او د مسلم حديثِ پاک دے**، د صحابیِ رسول، حضرت اَبُو سعيد خُدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے، **د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:** ما خوب وليدو،چې ما ته څه خلق پيش کړے شول، هغوي قميصونه اغوستے وو، د چا قميص د سينې پورې وو، د چا د دې نه ښکته (او پۀ يو راويت کښې دي: د چا قميص د سينې پورې وو، د چا د نامې پورې وو، د چا د زنګونانو پورې، د چا د نيمو پنډو پورې [2])، بيا ما عمر فاروقِ اعظم (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ) وليدلو، د هغۀ قميص د هغۀ د ښپو نه هم ښکته وو چې پۀ تللو کښې به

---

[1]... فتح البارى، كتاب فضائل اصحاب النبى، باب قول النبى لو كنت ...الخ، جلد:7، صفحه:35، تحت الحديث:3663-

[2]... الصواعق المحرقة، باب الخامس، فصل الرابع، صفحه:119، حديث:41-

یـې راښکلو- صحابهٔ کرامو عَلیهِمُ الرِّضْوَان پوښتنه اوکړه: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تاسو د دې څهٔ تعبير وفرمائيلو؟ وه یـې فرمائيل: دِين- (1)

يعنې څغه خلق د کومو قميص چې تر سينې پورې وو، هغه کمزورې دِين والا وو، د چا قميص چې د نامې پورې وو، هغوئي لږ شان مضبوط دِين والا وو، د چا قميص چې د زنګونانو پورې وو، هغوئي لږ نور کامِل دِين والا وو، د چا چې د نيمو پنډو پورې وو، هغوئي پهٔ دِين کښې لږ زيات مضبوط وو او پهٔ دې ښودلے شوو خلقو کښې د ټولو نه پوخ دِين والا حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وو چې د هغوئي قميص د ښپو نه ښکته زوړند وو-

سُبْحٰنَ الله! د دې خوب او د نبوي تعبير نه معلومه شوه چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ډير د کامِل اِيمان او مضبوط دِين والا دے-

## د دِين پهٔ معامله کښې د ټولو نه سخت صحابي

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ دِين کښې ډير پوخ او ډير مضبوط ايمان والا دے- پهٔ يو **حديثِ پاک** کښې دي، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَشَدُّهُمْ فِيْ دِيْنِ اللهِ عُمَرُ يعنې پهٔ ديني معامله کښې د ټولو صحابؤ (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ) نه زيات سختي کولو والا عمر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) دے- (2) پهٔ يو روايت کښې یـې فرمائيلي دي: اَشَدُّ اُمَّتِيْ فِيْ اَمْرِ اللهِ عُمَرُ يعنې د

---

1... بخاری، کتاب بدء الایمان، باب تفاضل اہل الایمان فی الاعمال، صفحہ:76، حدیث:23۔

2... ابنِ ماجہ، المقدمہ، فضائل خباب، صفحہ:38، حدیث:154۔

الله پاک د حکمونو پۀ معامله کښې زما د ټولو نه پوخ اُمَّتي عمر فاروق دے۔ [1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه: حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د دين پۀ حکمونو باندې پۀ ډيرې سختئ سره عمل کولو والا وو، هسې خو ټول صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضْوَان پۀ دې باندې پۀ مضبوطئ سره عمل کولو والا دي خو د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دا مضبوطي او پوخ والے د دومره حده پورې رسيدلے وو چې دا د هغوئي خاصيت جوړ شو، د دې پورې چې **حضور داتا ګنج بخش علي هجويري** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **فرمائي:** صوفيائے کرام (يعني د الله پاک نيکان بنده ګان، اوليائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم) د دِين پۀ معامله کښې ډير سخت وي (مثلاً فرائِض او واجبات خو ډيره غټه خبره ده مُستحبات يعني د نيکئ هُغه کارونه د کومو پۀ پريښودو کښې چې ګناه نۀ وي، هغه هم بالکل نۀ پريږدي، پۀ هغې باندې هم پۀ مضبوطئ سره پۀ استقامت باندې عمل کوي، صوفيائے کرامو پۀ دِين کښې داسې سخت کيدل) هُم د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه زده کړي دي۔ [2]

الله پاک دې زمونږ هم داسې توفيق نصيب کړي۔ پکار دي چې مونږ هم پۀ دِين باندې پۀ مضبوطئ سره عمل اوکړو۔ د افسوس خبره ده چې دلته خلق د خپل طبيعت په معامله کښې ډير سخت وي خو د دِين پۀ معامله کښې سخت نۀ وي د طبيعت نه چې يـې خبره لرې شان خلاف وي نو ◈ د غصې نه يـې رنګ تک سور شي ◈ چغې غصې به هم کوي ◈ د طبيعت نه پۀ خِلاف خبره ليدو باندې محفل پريږدي او ځي ترې هم ◈

---

[1]… الطبقات الکبریٰ لابن سعد، الطبقة الاولیٰ، ذکر استخلاف عمر، جلد:3، صفحه:220۔

[2]… کَشْفُ الْمَحْجُوب، ذِکرِ فاروقِ اعظم، صفحه:106 بتغير قليل۔

پهٔ وادهٔ ښادئ کښې د خپلوانو د طرف نه که څهٔ داسې خبره راشي نو خپلولي هم پرېږدي ◈ جنګ جګړې هم کوي ◈ ښه د خوشحالو نه ډک ماحول خرابوي، خومره بده خبره ده خو ډېره د افسوس خبره دا ده چې ◈ هم د دغه خلقو پهٔ مخکښې چې د دِين څهٔ خِلاف ورزي کيږي نو پهٔ هغوئي باندې هيڅ بده نهٔ لګي ◈ بعضې وخت پخپله هم نـمونځونه نهٔ کوي، بيا پرې هم خفه نهٔ وي ◈ کور والا يـې نـمونځ نهٔ کوي، پهٔ هغوئي هيڅ بد نهٔ لګي ◈ پهٔ وادهٔ ښادئ کښې سندرې سازونه لګيدلي وي، د ګناهونو نه ډک کارونه کيږي، پهٔ دې باندې هيڅ ګيله نهٔ کوي---!! غرض داسې انداز جوړيږي چې خلق خپل طبيعت ته ګوري، د دِين پروا نهٔ کوي- الله پاک دې د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پهٔ وسيله زمونږ پهٔ دِين باندې مضبوط والے نصيب کړي- کاش چې زمونږه معيار طبيعت نهٔ بلکې دِين جوړ شي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (2): فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ او د معاف کولو عادت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ آيت مبارک کښې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته حُکم اوکړے شو چې هغوئي دې د معاف کولو عادت اِختيار کړي-

سُبْحٰنَ الله! رَبِّ کريم چې حُکم اوکړو نو حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ لاس پهٔ لاس هم دا صفت اِختيار کړو-

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ غير مسلمه معاف کړو

هغوئي ته دا حُکم کله ورکړے شوے وو، پهٔ دې باره کښې حضرت عبد الله بن

عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما فرمائي: د مدينے د هجرت نه مخکښې خبره ده، يو ځل يو غير مسلمه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته کنځل اوکړل، اوس حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خو **مَاشَآءَاللّٰه!** ډير بهادر وو، د هغوئي يو رُعب وو، هغوئي وغوښتل چې هٰغه غير مسلمه راونيسي، دلته دوئي دا اِراده اوکړه، هلته دا آيت مبارک نازل شو، اللّٰه پاک هغوئي ته حُکم اوکړو چې هٰغه غير مسلمه معاف کړي، اللّٰه پاک به پخپله هغه له سزا ورکوي، نو حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حُکم ومنلو او هٰغه غير مسلمه يې معاف کړو-[(1)]

**سُبْحٰنَ اللّٰه!** **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** څومره ښکلے شان دے د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ---!! هغوئي ته د معاف کولو حُکم اوکړے شو، هغوئي فوراً دا صفت اِختيار کړو، بيا داسې نۀ چې صرف پۀ دې واقعه باندې هغوئي معاف کول اوکړل بلکې پۀ مستقل توګه يې د معاف کولو عادت اِختيار کړو-

## پۀ آيت اوريدو يې سمدستي عمل اوکړو

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دورِ خِلافت وو، يو ځل يو کَس څۀ جُرم اوکړو، هغه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خِدمت کښې پيش کړے شو، فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغۀ ته سزا واوروله نو هغۀ دا آيت مبارک ولوستو:

[1]... روح المعانی، پارہ:25، سورۂ جاثیہ، زیرِ آیت:14، جلد:13، صفحہ:202۔

| | |
|---|---|
| خُذِ الْعَفْوَ وَ اْمُرْ بِالْعُرْفِ وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِیْنَ ﴿۱۹۹﴾ (پارہ:9، سورۂ الاعراف:199) | [مفهوم] ترجمۂ كنزُ العِرفان: اے حبيبه! معاف كول اِختيار كړه او د نيكۍ حُكم وركوه او د جاهلانو نه مخ واړوه- |

دا آيت مبارك چې يـې واوريدو نو حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ دې كښې غور شروع كړو، بيا يـې هٔغه كَس معاف كړو- (1)

| | |
|---|---|
| خدا کے فضل سے میں ہوں گدا فاروقِ اعظم کا | خُدا ان کا مُحَمَّدِ مُصطفٰے فاروقِ اعظم کا |
| رہے تیری عطا سے یاخدا! تیری عنایت سے | ہمارے ہاتھ میں دامن سدا فاروق اعظم کا(2) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د آيت مبارك پهٔ اوريدو منع شو

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه مروي دي چې حُر بن قيس د اميرُ المُؤمِنِين حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خوا له د راتللو اِجازت وغوښتو- حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اِجازت وركړو- هغه دننه راغلو او وه يـې وئيل: اے د خطاب ځويه! پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! تهٔ نهٔ خو مونږ له بدله راكوې او نهٔ زمونږ ترمينځه پهٔ اِنصاف سره فيصله كوې- دا يـې چې واوريدل نو حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ جلال كښې راغلو او نزدې وه چې هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغه رانيولے وے- حُر بن قَيس ووئيل: اے اَميرُ المُؤمِنِين! الله پاك خپل نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ

1... الزواجر عن اقتراف الكبائر، الكبيرة الثالثة، جلد:1، صفحه:107-

2... وسائل بخشش، صفحه:526-

وَسَلَّم ته فرمائيلي دي:

| | |
|---|---|
| خُذِ الْعَفْوَ وَ اْمُرْ بِالْعُرْفِ وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِیْنَ(۱۹۹) (پاره:9، سورۂ اعراف:199) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے حبيبه! معاف کول اِختيار کړه او د نيکئ حُکم ورکوه او د جاهلانو نه مخ واړوه- |

حُر چې دا ووئيل نو حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ هم هلته منع شو او دا د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عادت مبارک وو چې د الله پاک د کتاب خبره به يې واوريدله نو منع کيدو به-[1]

## معاف کول کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې کښې زمونږ د پاره سبق دے، مونږ له هم د معاف کولو عادت اِختيارول پکار دي، افسوس چې اوس حالات د قابو نه بهر شوي دي، برداشت خو زمونږ پهٔ معاشره کښې ډير کم پاتې شوے دے ◈ پهٔ معمولي معمولي خبره باندې جنګ جګړې کيږي ◈ يو بل ته د پيغورونو او د کنځلو نه واخله د لاس اچولو پورې خبره رسي ◈ بيا خون ريزئ ته خبره لاړه شي- **يوه واقعه بيانولے کيږي،** يو ځل شيطان د خپلو ملګرو تربيت کولو، هغه خپل ملګري بوتلل او د يو حلوائي دُکان ته لاړو، هغه چې کومه شيره جوړه کړې وه، پهٔ هغې کښې يې ګوته ورښکته کړه او لږ شان څاڅکے يې پهٔ ديوال ولګولو، پهٔ هٔغه څاڅکي باندې مچ کيناستو، پهٔ خوا کښې ورسره چرمخکئ وه، هغې پهٔ مچ حمله اوکړه، د حلوائي پيشو دې ته کتل، هغې پهٔ چرمخکئ حمله اوکړه، پهٔ خوا

---

[1] … بخاری، کتاب الاعتصام بالکتاب والسنۃ، باب الاقتداء بسنن رسول الله، صفحه:1763، حدیث:7286 ملتقطًا-

کنبې د دُکان والا سپي هم دا منظر لیدو، هغه په پیشو حمله اوکړه او پیشو یې مړه کړه، حلوائي له غصه ورغله او هغهٔ سپے مړ کړو، په خوا کنبې دُکان والا له غصه ورغله، هغه حلوائي مړ کړو--!! داسې لړۍ روانه وه او د شیطان د لړ شان حرکت په وجه ډیر قتلونه وشول- (1)

دا زمونږ د معاشرې حالت دے، برداشت بالکل ختمیږي، د معاف کولو ذِهن ښکاري داسې چې هډو پاتې نهٔ دے ◈ په معمولي معمولي خبره باندې ډیره غصه کولے شي، رشتې ماتولے کیږي ◈ د غصې نه سرهٔ کیږو ◈ تکبر کیږي ◈ بعضې وخت خو ظلم او زیاتے هم کیږي- مونږ له د معاف کولو عادت اِختیارول پکار دي-

## د معاف کولو سره عزت زیاتیږي

رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د صدقې ورکولو سره مال نهٔ کمیږي او اِنسان چې د چا قصور معاف کړي نو اللّٰه پاک به د هٔغه (معاف کوونکي) عزت زیات کړي- (2)

په شُعَبُ الاِیمان کنبې دي: یو ځل حضرت موسیٰ کلیمُ اللّٰه عَلَیْہِ السَّلَام د اللّٰه پاک په دربار کنبې عرض اوکړو: اے کریم مالِکه! ستا په نزد د ټولو نه کوم یو بنده ډیر عزت مند دے؟ وه یې فرمائیل: هغه کوم چې د بدلې د طاقت لرلو باوجود معاف کول وکړي- (3)

---

[1]… شیطان کی حکایات، صفحہ:150۔

[2]… مسلم، کتاب البر والصلة والآداب، باب استحباب العفو والتواضع، صفحہ:1002، حدیث:2588۔

[3]… شعبُ الایمان، باب فی حسن الخلق، فصل فی ترک الغضب، جلد:6، صفحہ:319، حدیث:8327۔

اَللّٰہُ اَکْبَر! ځومره اهمه خبره ده---!! زياتره خلق خپل عزت بهانه جوړوي او جګړې زياتوي ◈ څوک وائي: كه ما بدله وانخسته نو پوزه مې كټ كيږي ◈ څوک وائي: دهٔ ما ته كنځل كړي وو، زهٔ يې څنګه معاف كړم ◈ څوک وائي: هغه پهٔ ډک بازار كښې زما بے عزتي كړې وه، زهٔ هغه چرې هم نشم معاف كولے---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معاف كول كوئ! عزت پهٔ اصل كښې هغه دے كوم چې د الله پاک پهٔ دربار كښې دے، كه مونږ د طاقت لرلو باوجود څوک معاف كړو نو د الله پاک پهٔ نزد به زمونږ عزت زيات شي، چې د هغه پهٔ نزد عزت زيات شي نو پهٔ دُنيا كښې به مو عزت پخپله زيات شي-

## څوک چې رحم نهٔ كوي پهٔ هغهٔ باندې به هم رحم نشي كولے

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يو ځل خطبه وركړه، پهٔ هغې كښې هغوئي 4 نصيحتونه اوكړل، څلور واړه ډير اهم نصيحتونه دي، د اوريدو او پهٔ زړهٔ كښې د كښينولو جوګه دي، هغوئي وفرمائيل:

(1): مَنْ لَّا يَرْحَمْ لَا يُرْحَمْ څوک چې رحم نهٔ كوي، پهٔ هغهٔ باندې رحم نهٔ كيږي-

(2): مَنْ لَّا يَغْفِرْ لَا يُغْفَرْ لَهٗ څوک چې معاف كول نهٔ كوي، هغه نهٔ معاف كولے كيږي-

(3): مَنْ لَّا يَتُوْبُ لَا يُتَابُ عَلَيْهِ څوک چې توبه نهٔ كوي، د هغهٔ توبه نهٔ قبلولے كيږي-

**(4):** مَنۡ لَّا یَتَّقِ لَا یُوَقَّہٗ څوک چې ځځان نهٔ بچ کیږي، هغه بچ کولے کیږي هُم نهٔ-[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دا ځلور واړه خبرې پهٔ خپل ذِهن کښې کښینوئ! ◈ رحم کوئ، الله پاک به رحم فرمائي ◈ معاف کول کوئ! د قیامت پهٔ ورځ به د ګناهونو معافي میلاؤیږي ◈ توبه کوئ! الله پاک به توبه قبلوي ◈ ځان د ګناهونو نه، د خرابو خبرو نه، د بد کردار نه، د خرابو اخلاقو نه، د دُنیا او د اخرت د نقصان نه د بچ کولو کوشش کوئ! رَبِّ کریم به غیبي مدد کوي او د دُنیا او د اخرت د نقصانونو نه به حفاظت کیږي-

## ښځه چې یـې معاف کړه نو بخښنه یـې وشوه

یو ګس وو، هغه وفات شو، چا پهٔ خوب کښې ولیدو، پوښتنه یـې ترې اوکړه: څهٔ درباندې تیر شول- وه یـې وئیل: یوه ورځ مې ښځې پهٔ خوراک کښې مالګه زیاته اچولې وه، ما له غصه راغله خو غصه مې ټو کړه او هغې ته مې هیڅ وه نهٔ وئیل، بس د دې عمل پهٔ وجه الله پاک زما ګناهونه وبخښل![2]

**سُبْحٰنَ الله!** معاف کوونکي ته معافي میلاؤیږي، ځکه مونږ له معاف کول پکار دي ◈ پهٔ کور کښې ◈ بهر پهٔ دوستانو کښې پهٔ هر ځائے کښې معاف کول اِختیار کړئ ◈ که د ښځې نه څهٔ خطا وشي نو معاف یـې کړئ! ◈ که ماشومان غلطي اوکړي نو د

---

[1]... کنز العمال، کتاب المواعظ والرقائق...الخ، خطب عمر و مواعظ، جز:16، جلد:8، صفحه:64، حدیث:44179۔

[2]... بیانات عطاریه، صفحه:164 خلاصةً۔

هغوئي تربيت کوئ! خو معاف کوئ يـې هم! ◈ د کشرانو وروڼو، خوئيندو نه که غلطي وشي نو معاف کوئ يـې! ◈ په لاره د تللو په وخت که څوک زمونږ سره ډغره وخوري نو معاف کوئ يـې! غرض دا چې روزانه ډيرې خبرې زمونږ د طبيعت خلاف کيږي، د معاف کولو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ثواب به هم ميلاؤيږي او په اخرت کښې د نجات جوړيدو هم ډيره اميد دے- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (3): د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اعلیٰ بدله

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په آيت مبارک کښې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شان بيان شو چې

| | |
|---|---|
| لِيَجْزِيَ قَوْمًۢا بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾<br>(پاره: 25، سورهٔ جاثيه: 14) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: چې الله يو قوم ته د هغوئي د کړو [اَعمالو] بدله ورکړي- |

د يو قول مطابق دا هم د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شان دے، هغوئي ته وفرمائيلے شو چې اے فاروقه [رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ]! تاسو معاف کول کوئ! الله پاک به ستاسو د اعمالو بدله درکړي-[1]

## الله پاک دې عمر له جزا ورکړي

حضرت سعيد بن مُسَيب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ مونږ د حضرت عمر فاروقِ اعظم

---

[1]... روح المعانى، پاره:25، الجاثيه، زيرِ آيت:14، جلد:13، صفحه:202 خلاصةً-

رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خِدمت کښې حاضر وو، قاري هم د دې آيت مبارک تِلاوت اوکړو، پۀ دې اوريدو اَميرُ المُؤمِنِين رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائيل: لِيَجْزِیَ عُمَرَبِمَا صَنَعَ يعني د آيت معنىٰ دا ده چې الله پاک به عمر له د هغۀ د اعمالو جزا ورکړي- (1)

## اے د محشر والؤ! دا عمر دے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دا بدله به څۀ وي کومه چې به حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته ورکولے شي، پۀ دې باره کښې يو روايت واورئ! د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما نه روايت دے، د قيامت پۀ ورځ چې به کله حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د الله پاک پۀ بارګاه کښې حاضريږي، هغه وخت به اِسلام (پۀ جسماني شکل کښې راشي او) عرض به کوي: يَا رَبِّ هٰذَا عُمَرُ اَعَزَّنِیْ فِیْ دَارِ الدُّنْيَا فَاَعِزَّهُ فِیْ عَرَصَاتِ الْقِيَامَةِ يعني اے رَبِّ رحمان او رحيمه! **دا عمر دے، دۀ پۀ دُنيا کښې زما عزت بلند کړے وو، نن د قيامت پۀ ميدان کښې تۀ دۀ ته عزت عطا کړې-**

د دې سره به حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته 2 چغې واغوستلے شي، د دغه چغو خوشبوئي به داسې وي چې که پۀ دغه کښې يوه هم پۀ دُنيا کښې پرانستے شي نو ټوله دُنيا به يې پۀ خوشبويۍ باندې معطره شي- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به پۀ نُوراني اوښه باندې کښينولے شي، د هغوئي مخې ته به 70 زره جنډې خوزيږي، هغه وخت به پۀ محشر کښې يو اواز کيږي: يَا اَهْلَ الْمَوْقِفِ هٰذَا عُمَرُ فَاعْرِفُوْهُ اے د محشر والؤ! دا عمر دے، دے

---

[1]... روح المعانی، پارہ:25، سورۂ جاثیہ، زیر آیت:14، جلد:13، صفحہ:203۔

ووېيژنئ---!! [1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ---!!

| | |
|---|---|
| لَوْ کَانَ بَعْدِیْ کہہ کے بڑھائی نبی نے شان | اِنسانیت کے ایک چمکتے گُہر عمر |
| بولے انہیں "مُحَدَّث خَیْرُ الْاُمَم" حضور | اسرارِ حق سے ایسے ہوئے باخبر عمر |
| آیات کا نُزول ہوا ان کی رائے سے | ہیں جلوۂ معارفِ حق، سَر بَسَر عمر |
| پہلوئے مصطفٰے میں بنی تیری قبر پاک | ہے عرش سے عظیم ترا مُسْتَقَر عمر |

## يومِ فاروقِ اعظم ونمانځئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! په ورومبي مُحَرّم الـحَرام يومِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ده، په دې ورځ باندې هغوئي شهيد کړے شوے وو، ځکه ◈ د نيک مؤمِن، د ډير پوخ دِين والا، د عظيم الشان صحابئِ رسول، د مسلمانانو د دويم خليفه، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وزير حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ياد ونمانځئ! ◈ په کور کښې ◈ په دفتر کښې ◈ په دُکان کښې ◈ چرته چې کيدے شي، د هغوئي ياد ونمانځئ! د هغوئي د اِيصالِ ثواب بندوبست اوکړئ! ◈ که کيدے شي نوخوارۀ هم تقسيم کړئ! ◈ که کيدے شي نو مختصر شان محفل جوړ کړئ! ◈ په کور کښې خو لازمي بندوبست اوکړئ! ◈ ټول کور والا راجمع کړئ او د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ

[1] ... الرياض النضرة، الباب الثانى، الفصل التاسع، ذكر نبذة من فضائله، صفحه:274 بتغير قليل۔

ذِکرِ خیر اوکړئ! ◈ د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله ده: **کراماتِ فاروقِ اعظم**- دا رساله د مکـتبة الـمدینه نه وغواړئ یا یـې د دعوتِ اِسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.net نه ډاؤن لوډ کړئ! دا رساله پهٔ کور کښې ولولئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! ډیر برکتونه به مو نصیب شي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان پهٔ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** پهٔ قبر باندې ګرباتۍ لګول منع دي-

**وضاحت:** مُحَرّم الـحَرام شریف تشریف راوړي، پهٔ دې میاشت کښې خاص طور پهٔ 10 محرم شریف خلق هدیرې ته حاضري کوي، دا ښه خبره ده، هدیرې ته تلل پکار دي، د خپلو وفات شوو خپلوانو د پاره اِیصالِ ثواب کول هم پکار دي، البته دا رواج عام طور لیدلے کیږي چې خلق پهٔ قبرونو باندې ګرباتۍ لګوي- دا منع دي- بالکل د قبر د پاسه خو ګرباتۍ یا شمع وغیره هیڅکله هم نهٔ دي لګول پکار، آؤ که د قبر سره نزدې څوک د قرآنِ کریم تِلاوت کوي یا اَوراد او وظیفې وغیره کوي، هغه ته د خوشبوئۍ رسولو د پاره که ګرباتۍ د قبر نه علاوه پهٔ بَل ځائے کښې ولګولے شي نو دا جائز دي بلکې ښه خبره ده- که هلته څوک هم نهٔ وي، صرف د قبر د پاره ګرباتۍ لګولے کیږي نو دا منع دي ځکه

چې اِسراف دے- د دې سره مال ضائع کيږي- (1)

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

### يَانُوْرُ (اے نُوره!)

څوک چې 7 کرته سورۀ نُور او زر يو [1001] کرته يَانُوْر ولولي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د هغۀ زړۀ به روښانه شي- (2)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...دار الافتاء اہل سنت، فتوی نمبر: Web:341 ۔

[2] ...مدنی پنج سورہ، صفحه: 259۔